# د اخون میا داد نور نامه: د درویزه ادبي مکتب د استازي په حېث

# Noor-Nama of Akhun Miandad as a Leading Figure of the Akhun Darweza School of Thought

Badrul Hakim Hakimzai [1], Faqir Muhammad [2]

Akhun miandad is one of the prominent and well known literary personalities of the Darweza school of thought. He is not only a good poet but also a very good prose writer, the best example in this connection is the creation of Noor- Nama authored by him. In this article Noor- Nama of Akhun Miandad will be discussed at length so that to unveil some of the folded prose secrets of Darweza School of thought.

د اخون درویزه ادبي مکتب له ډېرو شاعرانو او نثرنګارانو له خوا نمانځلے شوے او پاللے شوے دے ۔ ددغه مکتب د پېروکارو په لړۍ کښې یو وتلے او پېژندلے نوم اخون میا داد هم دے ۔ اخون میاداد د درویزه ادبي مکتب وړومبے صاحب دیوان شاعر دے ۔ نوموړي د شاعرۍ تر څنګه نثرنګاري هم کړې ده او یوه منثوره نورنامه ئې په لاس کښې لرو چې د درویزه ادبي مکتب سره د پېوستون او ترړون ښکاره نخښې نښانې لري ۔ د نثر دغه فنپاره ئې د درویزه لیکډول په تناظر کښې شننې او کتنې ته پامته داره ده ۔

د اخون میاداد سرسري پېژندګلو :- اخون میا داد په قبیله یوسفزے افغان دے چې ټبر څانګه ئې په دې ډول ده ۔ اخون میاداد بن علي الدین بن خواجه عمر بن رستم بن نقره دین پن حسن بن شامے بن خواجو بن اکو بن یوسف ۔ د برې درشخېلې اوسېدونکے وۀ ۔ قبر ئې هم دلته د سړک د غاړې ادیره کښې دے(۱)۔ بره درشخېله د متې تحصیفل ضلع سوات یو لوے کلے دے ۔ ددۀ کورنۍ هم په دې کلي کښې ژوند کویس د اثر افغاني دا دعوٰی د حقیقت سره ډېره نۀ لګوي چې د حضرت

1 Lecturer Pakhtunkhwa Study Centre Bacha khan University Charsadda
2 Lecturer Pakhtunkhwa Study Centre Bacha khan University Charsadda

شېخ میاداد زیارت په موضوع اتمانزئ علاقه هشتنغر کښې دے(۲) ـ نوموړے لیکوال اټکل په ۱۵۹۰ء کښې زیږېدلے او په کال ۱۶۶۸ئ کښې وفات شوے دے ـ د اثر افغاني دا خبره ښځي سمه ده چې اخون میاداد د۱۱۰۰هـ د وروستۍ حصې یو پښتون صوفي شاعر دے(۳) ـ د اخون میاداد د شاعرۍ یوه خطي نسخه د یو بشپړ دیوان په حېث د سمونې او څېړنې له پړاوه تېر شوے دے او د چاپ په کالو سمبال دے ـ د کلام له علمي او ادبي خدو خال څخه ئې برېښي چې لیک لوستلے سړے وۀ ـ د ظاهري او باطني علومو ژوره پوهه ئې لرله ـ په دې حقله چې علم ئې څومره، له چا نه او کوم ځائے تر لاسه کړے وۀ ـ هېڅ باوري شهادت په لاس نۀ راځي ـ

اخون میاداد خپل ټول ژوند د الله تعالی عبادت او ستائنې ته سپارلے وۀ ـ خو د مذهبي جذبې تر مخه ئې د وخت په جهادي هلو ځلو کښې هم برخه اخستې وه ـ لکه اخون ځالاک چې کله په بونېر چغرزو کښې (۱۶۱۵ء ـ ۱۶۲۵ء) د ډوماغېر مسلمو خلاف غزا کوله نو اخون میاداد هم قپه کښې د یو غازي په حېث ګډون کړے وۀ ـ په ۱۶۴۹ء د اخون کریم داد او میا قاسم بابا په مشرۍ کښې چې په تیرات سوات کښې د غېر مسلمو په ضد کومه غزا شوې وه نو اخون میاداد هم په کښې شریک وۀ ـ په دغه غزا کښې اخون کریم داد شهید شوے او اخون میاداد ژوبل شوے وۀ ـ

## فکري پېوستون

اخون میاداد یو عملي صوفي وۀ ـ دا خبره ښځي سپینه ده چې اخون درویزه د سلوک د چشتیه طریقې بزرګ وۀ ـ لکه چې خپله وائي :

درویزه ظاهر باطن په عشق مشغول شو
د چشتیانو داسې صافه سلسله ده (٤)

او میاداد وائي:

## هغه سلسلې د اولیاؤ ډېرې میاداد د چشتیانو په وندر کښېوتې(۵)

د اخون درویزه یو بل پیروکار اخون ځالاک په پېژندلي ډول د چشتیه طریقې سره تړون درلود ـ لیاقت خان شمعون لیکي چې د سوات اخون میاداد د اخون ځالاک معتقد وۀ(۶) ـ څرګنده خبره ده چې شېخ رحمکار د یو چشتیه بزرګ په حېث شهرت لري ـ اثر افغاني لیکي چې اخون میاداد د حضرت شېخ رحمکار په مشهورو خلیفه ګانو کښې دے(۷) ـ بیا په ۱۶۴۹ء کښې د اخون کریم داد سره څنګ په څنګ په غزا کښې برخه اخستل ئې له هغه سره فکري تړون ته اشاره او چشتیه طریقې سره ئې د پیوستون کوټلي بېلګه ده ـ دلته د شهسوار سنګروال درېځ اوپره پاتې کېږي ـ چې اخون میاداد روښاني سبک پلوي شاعر ګڼي (۸) او د عبد القیوم کاکړ دعوٰی هم د منلو نه پاتې کېږي چې د میاداد فکري تړون د پیر روښان سره او مرېنه ئې د مرزا خان انصاري سره په دکن کښې په ګوته کوي(۹) ـ

لنډه دا چې اخون میاداد خواجه عمر خېل یوسفزے دے ـ د سوات د برې درشخېلي اوسېدونکے وۀ ـ مزار ئې هم ددغه کلي په ادیره کښې دے ـ د داخلي او خارجي شهادتونو له مخه ئې د زېږون نېټه ۱۵۹۰ء او د مرېنې نېټۀ ئې ۱۶۶۸ء اټکلېدے شي ـ په ظاهري او باطني علمونو سمبال دے ـ د اخون کریم داد او اخون ځالاک سره همغاړے پاتې شوے دے ـ د درویزه ادبي مکتب وروستے صاحب دیوان شاعر دے ـ یو تکړه نثرنګار دے ـ د روشنیه نۀ بلکې د اخون درویزه د ادبي او فکري مکتب غړے دے ـ له چشتیه طریقې سره ئې تړون منلے او پېژندلے دے ـ

د اخون میاداد نورنامه او درویزه سبک :- اخون میاداد یوه نثري نورنامه لیکلې ده چې ټول په ټوله ئې د درویزه د دود کړي نثر پیروي او سبک پالنه کړې ده ـ نورنامه د مشرق د ګڼ شمېر ژبو په ځانګړې توګه د فارسي او پښتو یو لرغونے موضوعاتي ادبي توکے دے چې په منثور او منظوم ځېل په توګه هغه ځېل دے چې په کښې د رسول الله د نور په پیدائښت وړاندې کېږي (۱۰) په پښتو ادبیاتو کښې ددې ادبي توکي روایت ښۀ ډېر پاللے شوے دے ـ د رسول الله د نور د پیدائښت نه نیولے له دغه نوره د مادي کائنات بېلابېلې برخې پیدا کېدل ئې موضوع وي ـ په ډېره لویه مبالغه د رسول الله

شان او شخصیت په کښې ستائیلے کېږي ـ ددغو نورنامو په توهماتي ډول لوستل ، په کورونو کښې ساتل او د مړو سره په قبرونو کښې ښخول د ثواب کار ګڼلے کېدۀ ـ د پښتو ادبیاتو په تاریخ کښې ئې وړومبۍ څړیکه د درویزه په مخزن کښې په منثور شکل کښې تر سترګو کېږي ـ د درویزه د نورنامې نه پس د میاداد نورنامه په بشپړه توګه مخې ته راځي او دغه روایت ته رواج ورکوي ـ اصف صمیم هم د مخزن نه وروسته د میاداد نورنامه د تاریخ له پلوه دویمه ګڼي(۱۱) د نورنامو دغه روایت وروسته ګڼو لیکوالانو پرمخ بوت ـ په دې ترڅ کښې د فهیم، غلام نبي ، ګل محمد ، مطیع الله ، حلیم ، دوست محمد خان دوستي ، جان محمد ، غلام محمد ، علي اصف او د عبدالله نومونه د یادولو وړ دي ـ

د اخون میاداد نورنامه په خطي بڼه د پښتو اکېډیمۍ پېښور پوهنتون په کتابتون کښې په اندراج شمېر ۱۰٤ ق خوندي ده ـ په نومړي جونګ کښې نورې خطي نسخې هم شاملې دي ـ دا لیک په مقفٰی مسجع نثر کښې لیکلے شوے د ے چې د فني او هنري نثر ښائسته نمونه ده ـ د اخون میاداد نورنامه له دریو خواؤ نه د درویزه ادبي مکتب سره اړیکې ټینګوي (ا) موضوع (ب) اسلوب (ج) ترجمه نګاري ـ

## موضوع

په ډاګه ده چې د پښتو ادب په تاریخ کښې اخون درویزه په وړومبي وار د نورنامې دلیکلو روایت جوړ کړے دے ـ چې د مخون په پاڼو کښې ئې داسې وینو ـ"نور د محمد دے ځلېدلے ، که ئې ګورې په دوه کونه ځلېدلے ـ چې په شرع مستقیم شو ، د نبي دین هغو نیولے ـ اوس هر احد د نور خبرې کاندي ولې کم څوک ئې په اصل پوهېدلے(۱۲) ـ میاداد هم په دغه موضوع قلم چلوي او لیکي : " د ښۀ خدائے درود رحمت پر پاک رسول شه، هم پر آل هم په یارانو ـ دا نور نامه د محمد علیه السلام وتاسې زده کانئ یارانو ـ

## اسلوب

دا خبره ښځي جوته ده چې درویزه بابا د پیر روښان په سیالۍ خپل مخزن په هنري او فني نثر لیکلے دے ـ په دغه لیک کښې د مقفٰی، مرجز او مسجع نثر رنګونه په ډاګه دي او د عربۍ او فارسۍ

توري ئې هم په خلاص لاس پکار کړي دي ـ دغه دود ئې ادبي پېروانو هم پاللے دے ، لکه درويزه خپل ليک ډول داسې ساتي : "ايمان عمل دي دواړه ځبله ګوښي ـ هر چې وائي سره يو دي ، هغه وواتۀ له دينه ـ په مومن باندې د کفر حکم مه کړه چې تۀ ووتې له دينه ـ چې دے خون کا يا زنا کا يا څۀ نور ګناه ئې وينه ـ که څوک نيت د کفر وکا هر چې پس له زړو کالو به زه ووځم له دې دينه ـ په هغه ساعت به دے کافر شي که زر کاله نۀ پائينه ـ که د مومن زړۀ په قرار وي ولې کفر په خولۀ وائي بې با که ، پر دۀ هم کفر ثابت شي،هم عمل ئې حبطه شي هم عورته ئې طلاقه (۱۳)ـ

د درويزه يو منلے پيرو اخون قاسم دغه دود داسې پالي :

روايت دے هسې شوے چې جابر هسې وئيلي ، چې اصحاب مونږه سره له سروره صاحبه وو ـ د مردارې بد بوئي مونږ لره راغے ـ سرور هسې راته ووې چې نۀ پوهېږئ چې دا ګنده بوي د څۀ دے ـ اصحابو هسې ورته ووې نۀ پوهېږو ـ حضرت هسې ورته ووې چې ئې غيبت کاندي د خلقو دا د هغو د خولې بد بوئي دے(۱٤) ـ

د درويزه بابا يو بل پېژندلے پير وو اخون احمد دغه ليک ډول داسې نمانځي : "يهودا و خپلو وروڼو وته ووې ، چې له مرګه ئې ازاد کانئ يارانو ـ يو کوهے دے ماليدلے ، وکوهي وته به ئې واچوۀ عالمه ـ مسافر او کارواني به ئې وکاږي ، دے به يوسي د کنعان له نواحيه (۱۵) ـ

د درويزه يو بل پير و بابو جان ددغه هنري نثر قدرداني داسې کوي :"په ادريس باندې راغلې صحيفې هم ګتابونه ـ هم عذاب په کښې بيان هم ثوابونه ـ دے د خداے له ويرې هسې په هيبت وۀ ، نۀ ئې خوب نۀ ئې خندا وه ، هميشه ئې اوښکې تلې په ګرېوانونه ـ ذاتي اسم ئې اخنوخ وۀ بل ادريس نوم ئې پيدا شو چې ئې ډېر بيان د دين کا ، تل ئې ډېر وئيل درسونه ـ ولې هسې عنايت وۀ خداے پرې کړے ، په تسبيح په بسم الله به ئې دوخته کړل قميصونه (۱٦) ـ

هم دغه اسلوب د اخون مياداد د ليک دے : " په دا رنګ ئې ځواب ورکړو چې ستورے ماليدنه ـ چې تر ما پخوا پيدا وۀ ـ دے سيد د مرسلانو ـ چې اويا زره کاله به دے وخوت اويا زره کاله به دې پرېوت ـ هغه ستوے مې اويا زره کاله وليدو يارانو ـ پاک رسول مې ورته ووې اوس به ئې هم پېژنينه هغه ستورے ـ بيا جبرائيل مې ورته ووې که هغه ستورے ووينم اوس په ئې هم وپېژنم اے

شفیع د امتیاتو ـ پاک رسول مې لاس کړو ورپورته ، هغه ستوے پرې څرګند شو ـ هغه ستورے ئې وپېژند ـ تحقیق چې دا ستورې هغه دے (۱۷) ـ ددې ټوټو په لیدو دا حقیقت جوتېږي چې د درویزه د نثر لیک ډول د هغه ادبي پېروانو پوره په پوره راټینګ کړے او پرمخ بوتلے دے ـ دغه لیکونه یو تر بله دومره ډېر یو شانتوب لري چې هډو د یو لیکوال بېلا بېل لیکونه ښکارېږي ـ ځکه نو په باوري توګه وئیل اسانېږي چې اخون میاداد هم د نومورې ادبي مکتب یو نثرنګار غړے دے ـ

## ترجمه نګاري

دا خبره هېڅ شک نۀ لري چې پیر روښان خپل خیرالبیان د خپل فکر د ترجمان په حېث د کاغذ پاڼو ته سپارلے دے ـ خو د هغۀ په ځواب کښې منځ ته راغلے مخزن د بېلا بېلو عربي او فارسي لیکونو څخه مواد په پښتو ژبه راژبارې ـ د ژبارې دغه روایت ته ئې د مکتب غړي دوام ورکوي او پښتو ژبه د ترجمو د لارې شتمنوي ـ لکه درویزه خپله دغه ښېګړه په مخزن کښې داسې یادوي : "درویزه چې اجتهاد په علم وکړو ـ عربي ئې پښتنو لره پښتو کړه ـ نور غم غرض ئې نۀ وۀ مګر دا چې په نیکانو کښې یادېږي ـ دا کتاب مې عربي وۀ ـ د نبي صفت کړے محمد بوصیري دے ـ دې فقیر ځینې پښتو کړو ـ هر چې یاد ئې په دعا کا ، هغه کس دې هم په دین هم په دنیا نۀ زهیرېږي "(۱۸)

د اخون درویزه یو ادبي پیرو ابراهیم د خپلې ژبارې یادؤنه داسې کوي : "دا کتاب فارسي خوانه رساله وه ـ بې چاره ابراهیم پښتو کړه ـ د زړۀ کسي ئې د معدې هومره خوځېدۀ(۱۹) ـ "

د درویزه بابا یو پېژندلے پیر و بابو جان دغه روایت پالي او وائي :-" په فتاوٰی ظهیري کښې روایت دے ، هر سړے په خپله ژبه ملامت دے ـ څو خبرې مې د کفر په کښې راوړې، که احتیاط ورځنې وکاندي ایمان ئې سلامت دے او که دا نۀ پېژنینه ، په خپل لفظ به ایمان بائیلي ، حبطه ئې عبادت دے(۲۰) ـ" یا دا چې : " دا قیصه په عربي ده ، مثال ئې ونه د طوبي ده ـ بابو جان غریب پښتو کړه ، دا ګلونه د سپرلي ده(۲۱) ـ "

اخون میاداد هم لکه د خپلو نورو هم مکتب غړو د درویزه د ژبارې روایت په وړاندې غزولے دے ـ لکه چې خپله وائي : " دا نسخه مې په پارسۍ وه ، دې میاداد پښتو کړه ـ د بنۀ خداے منت پردۀ باندې ، خداے دې کوتاه امر زېده کا چې دعاځ ایمان ولره کاندي(۲۲) ـ "

د اخون درويزه د ادبي مکتب له نثرونو سره د اخون مياداد د نثري نورنامې له پرتليز جاج څخه په ډاګه کېږي چې د نومړو نثرونه يو ډول موضوعات چيړي ـ خپلو نثرونو ته له اسلامي احکاماتو او لارښوونو، له فقهي مسئلو او نورو مذهبي موضوعاتو څخه پيغاميز مواد راټولوي او د وګړو اخلاقي سمونه او روزنه په نظر کښې نيسي ـ د نوموړي مکتب ټول نثر نګاران د خپل اسلوب له مخه يو شان انداز خپلوي ـ مقفٰی ، مسجع او هنري نثر ليکلو ته زړۀ ښۀ کوي او يو مذهبي او اخوني نثر ليکنې ته رواج ورکوي ـ دغه شان د پښتو علمي کولو په غرض د تخليق تر څنګه د ژباړې روايت هم بې ارزښته نۀ ګڼي او په پرله پسې ډول ئې د پياوړي کولو کلکه تابيا کوي ـ اخون مياداد هم ددغه فکر پلوي او ددغه اسلوب د لارې يو څرګند لاروے جوړېږي ـ ددۀ نورنامه هم هاغه ټولې ښېګړې او ځانګړتياوې لري چې د درويزه ادبي مکتب د نورو ټولو غړو د نثرونو پېژندګلو جوړېږي ـ ځکه نو په ډاډه زړۀ او په باوري توګه دا دعوٰی په ځاے او سمه ده چې اخون مياداد د درويزه ادبي مکتب يو ليکوال دے او د هغۀ نثري نورنامه ددغه ادبي مکتب د اسلوب په ښۀ ډول استازي توب کوي ـ

## ماخذونه


۱: حکيمزے خيرالحکيم ، د بر سوات تاريخ ، درشخېله ، سوات ، ۲۰۰۷ء مخ ۳۳۵
۲: اثر عبدالحليم افغاني ، روحاني ترون ، باجوړ ، دارالاشاعت ، طبع اول ، ۱۹۶۶ء ، مخ ۵۹۱
۳: اثر عبدالحليم قاضي ، تېر هېر شاعران ، پېښور پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، بار اول ۱۹۶۳ء ، مخ ۲۹
۴: اخون درويزه ، مخزن ، مرتبه سيد تقويم الحق کاکاخېل ، پېښور پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، دويم ځل ۱۹۸۷ء ، مخ ۸۰
۵: اخون مياداد ، د اخون مياداد ديوان ، سمونه او څېړنه بدرالحکيم حکيمزے ، لاهور، اداره نشرالمعارف ، ۲۰۱۱ء، مخ ۱۶۷
۶: شمعون لياقت خان ، اخون سالاک ، بونېر ، ۲۰۱۶ء ، مخ ۷۱
۷: اثر عبدالحليم قاضي ، تېر هېر شاعران ، مخ ۲۹
۸: نيازي شهسوار سنګروال ، د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ ، پېښور ، د احمد شاه ابدالي پوهنتون ، ۱۹۹۷ء ، مخ ۱۳۰
۹: خيال بخاري ، عبدالقيوم کاکړ ، اخون مياداد ، مضمون مشموله درې مياشتنۍ پېښور پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، جلد ۱۶ ، شماره ۱ تا ۶ ، ۱۹۶۷ء ، مخ ۱۳۰

۱۰: صمیم محمد اصف ، پښتو نامې ، پېښور دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰٤ء ، مخ ۱۲۸
۱۱: هم دغه بره اثر ، مخ ۱۲۹
۱۲: اخون درويزه مخزن ، مخ ۸۹
۱۳: دغه بره اثر ، مخ ٦
۱۴: اخون قاسم ، فوائد الشريعه ، پېښور ، تاجران اليشرسنګهه و چهجو سنګهه فروشان کتب ، ۱۳۰٤هـ ق ، مخ ٦٤
۱۵: اخون احمد، خطي نسخه ، مملوکه ، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، اندراج شمېره ٤٨، مخ ۲۸۱
۱۶: بابو جان ، خطي نسخه ، مملوکه ، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، اندراج شمېرې ۹۲ ، ٤٨، ۱۳۹ ، ۳۳۹
۱۷: اخون مياداد ، نورنامه ، خطي نسخه ، مملوکه ، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، اندراج شمېر ق ۱۳۰٤ ،
۱۸: اخون درويزه مخزن ، مخ ۳۱
۱۹: ابراهيم ، خطي نسخه ، مملوکه ، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، اندراج شمېره ۳۳۹
۲۰: بابو جان ، خطي نسخه ، مملوکه ، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، اندراج شمېرې ۹۲ ، ۱۳۹ ، ۸۰۵
۲۱: بابو جان ، دعاـئ سرياني ، خطي نسخه ، مملوکه ، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، اندراج شمېرې ۱۳۹ ، ۳۱۲
۲۲: اخون مياداد ، نورنامه ، اندراج شمېره ق ۱۳۰٤